د افغانستان اسلامي امارت
رياست الوزراء
د دفتر لوي رياست
د عامه او استراتيژيکو اړيکو معاونيت
د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

امارت اسلامی افغانستان
ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
معاونیت روابط عامه و استراتیژیک
مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت

Islamic Emirate of Afghanistan
Directorate of Ministers
General Director Chief of Staff
Deputy Director General of Public and Strategic Affairs
Government Media and Information Center


# د کلني راپور ورکولو فارمټ

| | |
|---|---|
| د ادارې نوم (پښتو او دري) | د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت<br>وزارت ترانسپورت و هوانوردی |
| د ادارې د کارکوونکو شمېر (مرکز او ولايات) | 2339 نفر در تشکیل سال مالی 1401 |

## د لاسته راوړنو لنډيز (خلاصه)

- د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په بېلابېلو برخو کې د (۱۲) طرزالعملونو او همدا راز د (۶) پلانونو او لارښونو ترتيب، چمتو کول او بيا کتنه.
- په بېلابېلو برخو کې د (۱۱) هوکړو او تړونونو ترتيب او بيا کتنه.
- د ملکي هوايي چلند په انسټيټوټ او د ځمکني او هوايي چلند په سکټور کې د (۲) ستراتيژيکو پلانونو ترتيب او چمتو کول.
- د Personal Licensing (PEL) سيستم د (4) برخو رامينځته کول او همدارنګه الکټرونيکي کارتونه، د موټرو او ټرانسپورټي شرکتونو لپاره احصايوي معلومات او ارقام ، SOMS Superiority of Modern Services ( د عصري خدمتونو سيستم) رامنځته کول او د واټ ټرانسپورټ او هوايي برخې د عوايدو توحيد او راټولول.
- د (۶۱۱۱) (شپږ زره يو سلو يوولس) موټرو ارزونه، تخنيکي کنټرول او د واټ ټرانسپورټ د برخې د شرکتونو تخنيکي ارزونه.
- د افغانستان د اسلامي امارت د کابينې د ۱۴۴۳/۲۴/۹ نيټې او ۳۲ ګڼې د پريکړې له مخې وزارتونو او خپلواکو ادارو موټړچلوونکو ته د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د تخنيکي خدمتونو او خونديتوب رياست د مسلکي انجنيرانو له خوا «د موټړچلوونکو دندې او مکلفيتونه »تر سرليک لاندې د روزنيزو سميناورنو وړاندې کول.
- په مرکز او ولايتونو کې د مسافر وړونکو او باروړونکو موټرو د تمځايونو د جوړولو لپاره د عامه مشارکت تړون لاسليک کول.
- له ۹۰۰ څخه زيات ټرانسپورټي شرکتونه او اتحاديې په معلوماتي سيستم کې ثبتول، په کابل کې د( ۱۴۱ ) مسافر وړونکو او بار وړونکو شرکتونو ارزونه، په مرکز او ولايتونو په هره ربعه کې د کرايې د لايحې ټاکل.
- کورنيو او بهرنيو الوتکو ته له (۱۶۶۲) (يو زرو شپږ سوه دوه شپيته)څخه د زياتو جوازونو صادرول او د هوايي برخې د (۲۵۵۴۰) (پينځه ويشت زره پينځه سوه څلوېښت) عبوري الوتنو ثبت او راجستر په هوايي او ځمکني ټرانسپورټي برخو کې د سلګونو مسافرينو شکايتونو ته پر وخت رسيدنه.

- په معیاري ډول د هوايي ډګرونو فعال ساتل او د هوايي ډګرونو د عصري وسايلو او سيستمونو، تاسيساتو او تخنيکي وسايلو بشپړول او د هيواد په هوايي ډګرونو کې د افغان حاجيانو لپاره د معياري خدمتونو وړاندې کول.
- د هيواد د هوا حالاتو وړاندوينه 24 ساعته ډول د هيواد د هوا حالاتو وړاندوينه ترسره کول، او ورځني راپورونه په دوامداره توګه د کورنيو او بهرنيو پيلوټانو سره شريک او عام ډول خپرول.
- د کابل نړیوال هوايي ډګر د کټارو ترميم او په مرکز او ولايتونو کې د ۲۷ ساختماني پروژو بيا رغونه.
- د هوايي شرکتونو د الوتکو عمومي چيک.
- د هوايي چلند په برخه کې د هيواد دننه او بهر د (561,099) (پنځه سوه يو شپته زره نهه نوي) مسافرينو ليږد او همداراز د (2,647) (دوه زره شپږ سوه اوه څلوېښت) ټنه کارګو توکو ليږدول.
- د ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې له سرحدي بندرونو څخه د ټولو کورنيو او بهرنيو (673,982 ) (شپږ سوه دري اويا زره، نهه سوه دوه اتيا) وسايطو تېرېدنه، چې 4,613,1968 (شپږ‌څلوېښت ميليونه، يو سلو يو ديرش زره نهه سوه اته شپېته)ټنه وزن يې لېږدولی دی.
- د هوايي چلند په انستيټوټ کې د جومات جوړول ،د سميليټور ټاور فعالول او د لسګونو محصلينو له فراغت څخه وروسته د هغوی په دندو ګمارل.
- د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د تخنيکي کارکوونکو د ظرفيت د لوړولو لپاره د اسانتياوو برابرول او لسګونه کسان بهرنيو روزنيزو پروګرامونو ته استول.
- د ۱۴۴۴ هـ ق مالي کال ټول (8927712586) (اته مليارده، نهه سوه اوه ويشت ميليونه، اوه سوه دولس زره پنځه سوه شپږ اتيا) افغانۍ عوايد د اسلامي امارت خزانې ته جمع شوي دي.

## د ۱۴۰۱ هجري شمسي (۱۴۴۴ هجري قمري) کال د عمده لاسته راوړنو (تفصيل)

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت خپلو عمده موخو ته د رسيدو په پار چې په دې کې د هوايي او ځمکني ټرانسپورټ د سيستم مديرت، انسجام، سازماندهي او څارنه شامله ده او د ښه، خوندي، د لاسرسي وړ له چاپيريال ساتنې سره موافق د ملي او نړيوالو نهادونو په مرسته د خپل هيواد د پرمختګ او د اقتصادي ودې او د نړۍ او سيمې سره پر اتصال متمرکز دي خدمتونه وړاندې کوي .

په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې د دغه وزارت مهمې لاسته راوړنې د تقنيني سندونو، ټرانسپورټي تاسيساتو، کارمونديې، ټرانسپورټي خونديتوب، عوايدو، د ټرانسپورټي خدمتونو وړاندې کول او د څارنې او کنټرول په برخو کې دي.

### د هوايي چلند برخه

#### د قوانينو، مقرراتو، هوکړه ليکونو او بهرنيو اړيکو برخه

په 1401ل کال کې چې د 1444 هـ ق سره سمون لري، د ټرانسپورت او هوايي چلند وزارت هڅه کړې چې خپلو هېوادوالو لپاره معياري خدمتونه وړاندې کړي. په همدې موخه د پاليسيو، قوانينو، مقرراتو او هوکړه‌ليکونو

په بیاکتنې او تدوین او د ټرانسپورټي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې له ګاونډیو، سیمه ییزو او فرامنطقوي هېوادونو سره د دوه اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا او دوام په موخه د مناسبو شرایطو په رامنځته کولو کې اغېزمن ګامونه ترسره شویدي. چې عمده يې په لاندې ډول دي:

## د پالیسۍ او ستراتیژۍ برخه:

د افغانستان د اسلامي امارت د روحيې او پالیسۍ سره سم د ټرانسپورټ او هوايي چلند د باکیفیته او معیاري خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د تقنيني اسنادو لکه پالیسیو، ستراتیژیو او طرزالعملونو بیا کتنه او ترتیب. په ځانګړې توګه د واټ ترانسپورټ په برخه کې دغه ډول اقدامات اړین کڼل کېږي. دې وزارت په 1401ل کال کې هڅې کړي چې په یادو برخو کې خپلو هیوادوالو ته په بنیادي او معیاري توګه خدمتونه وړاندې کړي. په همدې اساس د پالیسیو او نورو تقنيني اسنادو په ترتیب او د واټ ټرانسپورټ په سکتور کې د ستراتیژیک پلان د نهايي کولو په برخه کې لاندې خدمتونه ترسره شویدي:

- د ولایتونو تر منځ د باربري وسایطو د نوبت د روند طرزالعمل ترتیب چمتو کول.
- د دولت د عوایدو د زیاتوالي او د هیواد د هوايي چلند په چارو کې د غوره خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د طرزالعملونو چمتو کول.
- د خصوصي سکتور په مرسته د مسافر وړونکو او بار وړونکو ترمینلونو جوړول، ټولګېټونو (الکټرونیکي دروازو) او تیرپارکونو د رغونې لپاره د عامه او خصوصي مشارکت پروژو لپاره د لاربښوونو تهیه او ترتیبول.
- د فلای دوبۍ هوايي الوتنو د بیا پیل لپاره د طرزالعمل د مسودې چمتو کول.
- د انستیتیوټ، واټ ټرانسپورټ او هوايي چلند سکتور کې د ستراتیژیکو پلانونو د تدوین له لارې د تحصیلي نصاب معیاري کول.
- د ارقامو او اړوندو احصایوي معلوماتو د راټولولو او معیاري کولو لپاره د ډیټابیس رامینځته کول او اپډیټ کول.
- د افغانستان د لویو ښارونو (هرات، کندهار، ننګرهار، بلخ او کندز) د عامه ښاري ټرانسپورټ اصلاحي طرحې ترتیب او د تطبیق پلان جوړول.

## د واټ ټرانسپورټ برخه:

د ټرانسپورټ سکتور پراختیا په ځانګړې توګه د عامه هوساينې په ښه والي او د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې مثبت اغیزمن رول لوبولی شي او د اقتصاد د متوازنې ودې او په ټول هیواد کې د سوداګرۍ بهیر د اسانتیا سبب کېږي. د دې تر څنګ د اسلامي امارت په عوایدو کې زیاتوالی راځي او کاري فرصتونه ورسره زیاتېږي؛ ځکه چې اغېزمن ټرانسپورټ د خصوصي سکتور د پانګونې، مصئونیت زیاتېدو، داېمن امنیت او د ټولنیز ژوند د ښه والي سبب کېږي. سربېره پردې د واټ ټرانسپورټ سکتور د اسلامي امارت د عایداتو د زیاتوالي له مهمو سرچینو څخه دی او د عصري ټرانسپورټي سیستم په درلودلو سره به متشبثین، کورني او بهرني

علاقمندان لا زياتې پانګونې ته زړه ښه کړي. هغه فعاليتونه چې په دې برخه کې ترسره شوي دي، په لاندې ډول دي:

- په هيواد کې د TIR سيستم د معياري فعاليتونو د پلي کولو لپاره چې اړتيا ورته ليدل کېږي، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې له خونې (د TIR ضامنې موسسې) سره په افغانستان کې د IRU اکاډمۍ د جوړولو تفاهم‌ليک لاسليک کړ.
- د اتصال دهليز په غونډو کې د غړيتوب د ترلاسه کولو په موخه د توکو د انتقال لپاره د اسانتياوو د برابرولو په موخه ګډون چې له مبداء هيواد (بيلاروس) څخه پيل او د روسيې-قزاقستان-اوزبيکستان او افغانستان له هيوادونو څخه تر تېرېدو وروسته په پاکستان کې پای ته رسېږي. دغه دهليز ټولټال (۵۱۸۲) (پينځه زره يو سلو دوه اتيا) کيلومتره اوږدوالی لري چې د ريل له لارې د افغانستان له حيرتان بندره او د افغانستان له خاورې (حيرتان - تورخم) پورې د موټرو په واسطه ۶۸۸ کيلومتره واټن لري.

## د ټيکنالوژيکي خونديتوب او د تخنيکي خدمتونو د وړاندې کولو برخه:

- د (۳۱۱) ټرانسپورټي وسايطو تخنيکي ارزونه چې په دې وروستيو کې د هيواد په ټرافيکي سيستم کې داخل شوي دي.
- د (۷۳) معياري موټرو په ګډون د شته ټرانسپورټي شرکتونو تخنيکي ارزونه او په ټرانسپورټي سيستم کې يې شاملول.
- د افغانستان د اسلامی امارت د کابينې د ۱۴۴۳/۹/۲۴ نېټې د ۳۲ ګڼې د پريکړې له مخې، ۴۵ وزارتونو او دولتی ادارو موټرچلوونکو لپاره (د موټرچلوونکو دندې او مکلفيتونه) تر عنوان لاندې د روزنيزو سمينارونو جوړول.
- د مسافرو د خونديتوب په موخه د(۵۸۰۰) (پينځه زره اته سوه) مسافر وړونکو موټرو تخنيکي کنټرول چې له مبدا څخه مقصد ولايتونو ته ځي د کابل ښار په ترمينلونو او ترانسپورټي مرکزونو کې ترسره شوي دي.

دغه پروسه د سيستم له لورې تر سره کېږي او د هوايي چلند د مصئونيت مفتشين او د مصونيت برخې تخنيکي پرسونل د خپلو ورکړل شويو صلاحيتونو سره سم په دې سيستم کې د الوتنې او لايسنس نظارت او اصلاحات راوستلی شي. همدارنګه له دې سيستم څخه د راپورونو د ايجاد شونتيا هم شته او ټول ترسره شوی نظارتونه په سيستم کې ثبتېږي.

- په 380 ټرانسپورټي موټرو کې د GPS سيستم جوړول ، په باروړونکو لاريو او مسافروړونکو بسونو کې د GPS نصب په اړه دټرانسپورټ وزارت او (Universal )، سيف زون او تکتاز شرکتونو ترمينځ هوکړه ليک لاسليک شو ، چې د دې کار په عملي کولو سره له يوې خوا ټرانسپورټي سيستم معياري کېږي او له بلې خوا په کار پيدا کولو ، روڼتيا او د عوايدو په راټولولو کې مثبت اغيز لري.
- د ټرانسپورټي وسايطو لپاره د الکترونيکي کارتونو( واحد کاري مرکزونو) د سيستم جوړول، د څمکنی ټرانسپورټ شرکتونو ته د الکترونيکي کارتونو او کتابچو وېش چې څو مياشتې دمخه پيل شوی چې

دا د ځمکني ټرانسپورټ سيستم په معياري کولو کې مهم رول لري او ټول ټرانسپورټي شرکتونه اړ دی چې دا کارت او کتابچه ترلاسه کړی ځکه چې دا کتابچه او کارت د موټرچلوونکو لپاره د پېژندپاڼو او پاسپورټونو په څېر مهم دي.

- د وسايطو او ټرانسپورټي شرکتونو د ارقامو او احصايوي معلوماتو سيستم رامنځته کول.

## د واټ ترانسپورت د خدمتونو برخه :

- د معلوماتو په سيستم کې له 900 څخه د زياتو ترانسپورټي شرکتونو او اتحاديو ثبت.
- د وسايطو د احصايوي ارقامو راټولول او د هيواد په دريو ولايتونو کې د (۳۳) ښاري مسافر وړونکو ټرانسپورټي هډو او د (19) ګراجونو (د لاريو ګراجونو) چک کول.
- د کابل په کچه د 80 مسافر وړونکو شرکتونو او 61 باروړونکو شرکتونو ارزونه.
- د هېواد په اوو (۷) زونونو کې د پيرودونکو د خدمتونو (۷) مرکزونه يا (One Stop Shop) فعاليدل، چې له يوې خوا د خلکو د وخت د ضايع کېدو مخنيوی کوي، د بيروکراسۍ مخه نيسي او له نورو اسانتياوو سره سره دا مرکز د مسافروړونکو او باروړونکو موټرو لپاره چې ټرانسپورټي او ټرافيکي اسناد نه لري، جوړ شوی دی. دا مرکز د کابينې له خوا د وړانديز شوي طرحې له خوا منظور شوی دی، دا پروسه به د ياد شوو اسنادو په بهير کې تيزوالی راولي.

- د هيواد په 12 بندرونو کې د مالونو د لېږد حجم پوهېدو لپاره د ارقامو د ثبت ځيرنه.
- د سرحدی بندرونو څخه د باروړونکو موټرو د تردد او تيريدنې ارقام په لاندې ډول دي:
  - ✓ د کورنيو موټرو ټول تردد او تيريدل 404479 (څلور سوه او څلور زره، څلور سوه نهه اويا) دی، چې ټولټال 16006047(شپاړس ميليونه شپږ زره اووه څلويښت) ټنه وزن وړی دی.
  - ✓ د بهرنيو موټرو ټول تردد او تيريدل 269503 (دوه سوه نهه شپيته زره پينځه سوه دري)دی، چې ټولټال 30125921 (دېرش ميليونه، يوسلو پينځه زره، نهه سوه يوويشت)ټنه وزن بار وړی دی.

بايد ووېل شي چې په تېرو څو کلونو کې د افغانستان او پاکستان بار وړونکي موټر د دواړو هيوادونو (افغانستان او پاکستان) تر منځ له روږ پاس پرته تګ راتګ کوي، مګر د افغان پلاوي د وروستۍ ناستې پر اساس چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت ماليي او اداري مرستيال حافظ انجينر صديق الله عابد هم پکې برخه درلوده، د پاکستاني پلاوي سره د پاکستان په پلازمينه اسلام اباد کې پريکړه وشوه چې د دواړو خواو باروړونکي لاريو ته د لنډ وخت لپاره ننوتلو سند (TAD) به په نږدې راتلونکې کې د دواړو هيوادونو د قونسلګريو له لارې صادر شي ترڅو د دواړو هيوادونو موټر په ازاده توګه د يو بل په خاوره کې تګ او راتګ وکړي.

- د الکټرونيکي تادياتو پراساس د کرايې پلان دمسودی تنظيم :
- د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د بازار بدلونونو ته په لېدو د ټرانسپورټي وسايطو د کرايې د لايحو تثبيتېدل چې په دې سره به ټرانسپورټي سيستم معياري، له زياتې کرايې څخه مخنيوی ، د

هیوادوالو شکایتونو ته رسیدګي او د مسافر وړونکو موټرو فعالیت به له نږدې څارل شوی وي . د کابل ښار او ولایتونو د ټولو تمځایونو او لارو لپاره د مسافر وړونکو موټرو د کرایې طرحه چمتو او د دې تر څنګ د دې وزارت کارکوونکي په دوامداره توګه ساحو کې د مسافر وړونکو موټرو د ټاکل شوې کرایې د لایحې څارنه په جدي ډول ترسره کړې ده او د هغه زیاتې کرایې مخنیوی يې کړی دی چې د موټرچلوونکو له لورې له مسافرینو اخیستل کېده.

## د ټرانسپورټي زېربناوو د پراختیا او پرمختګ برخه :

- د ټرانسپورټي تاسیساتو په برخه کې د شپږو نویو پرمختیايي پروژو د طرحې او ډیزاین نهايي کول، چې د اداري ودانیو تر څنګ د هیواد په ټرانسپورټي بندرونو کې د لمریزې برېښنا سیستم پروژه هم په کې شامل دي.
- د عامه او خصوصي مشارکت د پروژو لپاره (په ملي او انګلیسي ژبو) د (۱۹) جلدونو کانسپت نوټ تهیه او چمتو کول.
- په سیمه ییز اتصال کې د ټرانسپورټ او مواصلاتو د رول او د ټرانسپورټي خدمتونو په وړاندې کولو کې د خصوصي سکټور د رول په اړه علمي خېړنې او د افغانستان د علومو اکاډمۍ په مجله کې یې خپرول.
- د هیواد په مرکز او ولایتونو کې د مسافر وړونکو او باروړونکو ترمینلونو، کمپلیکس، تیرپارک او ټولګیټونو ( الکترونیکي دروازو) او د اداري ودانیو لپاره په (۶۱) ساحو کې د ځمکې ټاکل او تثبیت.

✓ په مرکز او ولایتونو کې د (۱۵) ودانیزو پروژو کنټرول او کتنه چې په لاندې ډول دي:
✓ د ده سبز د بار وړونکو وسایطو د هډې پروژه، د کاري نقشو پلي کول او څارنه.
✓ د کابل سرای شمالي ته څېرمه د مسافر وړونکو وسایطو د هډې/ پارکینګ پروژې د کاري نقشو پلي کول او څارنه.
✓ د زابل ولایت د څلورو مسافر وړونکو ترمینلونو د ځمکې بیالبېدنه او نوي کورکې او کوردینات برابرول.
✓ په حیرتان بندر کې د خصوصي سکټور د پارکینګونو سره د لاسلیک شوو تړونونو بیا لیدنه او چک.
✓ د مزار شریف او جوزجان پر عمومي سړک د جوړ شوي خصوصي تیر پارک بیا کتنه او څارنه .
✓ د کابل کندهار پر لویه لار د جومات جوړولو په موخه، د ځمکې ټاکل او د تثبیت په غونډو کې ګډون چې چارې يې د ټولګټو وزارت له لورې ترسره کېږي.
✓ په تورخم، اسلام کلا او سپین بولدک بندرونو کې د مسافر وړونکو ترمینلونو د جوړښت لپاره د ځمکې د تثبیت او ټاکلو په غونډو کې ګډون چې چارې به يې د مالیې وزارت لخوا ترسره کېږي.
✓ د کابل ښار غرب لین( کابل- کندهار، کابل-غزني) د موټرو د هډو جوړولو څخه څارنه او کنټرول.
✓ سنګ نوشتې ته څېرمه د سوېل لور ته د هډې جوړولو پروژې څخه څارنه او کنټرول.
✓ د واټ ټرانسپورټ د معین په مشرۍ د مل پلاوي له لورې د سپین بولدک په شمول، کندهار ولایت ته کاري سفر او د ۱۹ مسافر وړونکو او بار وړونکو هډو څخه کتنه او څارنه.

- ✓ د کابل په قلعه حيدرخان سيمه کې د غزني هډې له جوړښت څخه څارنه او کنټرول.
- ✓ د ارغندي چوک ته څیرمه د بار وړونکو وسایطو د پروژې له جوړښت څخه څارنه او کنټرول.
- ✓ د بدخشان ولایت د مسافر وړونکو وسايطو د تاسيساتو او د وسايطو د احصايوي ارقامو راټولولو په موخه د عامه او خصوصي مشارکت په ډول د ترون لاسلک او د يادو مسافروړونکو موټرو لپاره د مهالوېش برابرول.
- ✓ د بدخشان ولایت د هوايي ډګر ځغاستليکې د ستونزو حل او د ترميم لپاره يې د تخنيکي ځانګړتياوو ليست او نقشه برابرول.

- د مرکز او ولایتونو په کچه د مسافرينو او بار وړونکو توکو لپاره د يوولسو هډو (پارکېنګونه) جوړول او د عامه مشارکت ترون لاسليک کول.
- د ساحوي پلان، کاري حجم، د ترافیک حجم مطالعه او تخنيکي سروې(توپوګرافي) او همدارنګه د ۱۸ مسافرينو او بار وړونکو ټرمينلونو لپاره د ځمکې نرخ او دهغوی اقتصادي او مالي تحليل او هم ورسره جوخت د عامه او خصوصي مشارکت په بڼه تير پارکونه او بريښنايي دروازې جوړول
- د خوست، کندهار، بلخ، هرات او کابل په ساحو کې د پاتې کارونو د ترسره کولو په ګډون د څلورو پروژو لپاره د بوديجې نهايي کول، يآدې څلور پروژې، چې انتقالي او خدماتي پروژې دي. لومړی پروژه د کندهار نړيوال هوايي ډګر د حفظ او مراقبت پروژه، چې د (۱۷۰۲۸۶۴۹۶) ميليونه افغانيو په ارزښت يې ترون لاسليک شوی دی. دوهمه د هرات نړيوال هوايي ډګر د حفط او مراقبت پروژه ده، چې ( ۱۶۲۹۰۵۱۵۰) ميليونه افغانيو په ارزښت يې ترون لاسلیک شوی دی.

همداراز د کابل نړيوال هوايي ډګر د حفظ او مراقبت پروژه ده، چې د (۲۴۰۴۰۰۰۰۰) ميلونه افغانيو په ارزښت يې ترون لاسليک شوی دی او بله پروژه د خوست هوايي ډګر د ترمينل رغونه، د ای ټي ام ودانۍ رغونه اود ( ۱۰۵۳۸۱۹۶۲) ميلونه افغانيو په لګښت په هوايي ډګر کې د وسايطو لپاره د ۱۱ پارکينګونو جوړول شامل دي.

## د هوايي چلند برخه:

- د هوايي چلند د تنظيم د قانون نوې طرحه ترتيب او د علماوو، متخصصينو او مسلکي کسانو په ګډون د مسؤلې کميټې له خوا تر غور وروسته د تاييد او د نور پړاوونو لپاره د عدلیې وزارت ته استول شوې ده. همدارنګه د مسافرو او توکو د ټرانسپورټ د آسانتياوو د برابرولو په موخه له علاقه لرونکو هېوادونو سره د هوايي خدمتونو څلور هوکړه ليکونه او يو ترون ترتيب او بيا کتل شوی او له ايران هيواد سره د روزنيزو پروګرامونو لپاره هوکړه ترتيب شوې او د هوايي خدمتونو هوکړه له روسيې هيواد سره تعديل شوې ده.
- **د مسافرينو شکايتونو ته رسيدنه:** د مسافرينو د شکايتونو اوريدل او هوايي چلند په برخه کې د معياري خدمتونو وړاندې کول ددغه وزارت له کاري لومړيتوبونو څخه دي، چې د تېر کال په اوږدو کې يې د هوايي چلند او ځمکني ټرانسپورټ په برخو کې د مسافرو او هيوادوالو په سلګونو شکايتونو،

غوښتنو او وړاندیزونو ته رسیدنه شوې ده او یاد وزارت په دې برخه کې له هیڅ ډول هڅو څخه دریغ نه دی کړی.

- **هوايي ډګرونه:** د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د کابل د هوایي ډګر ګڼ شمېر عصري دستګاوې او سیستمونه، تاسیسات او تخنیکي وسایط له سره فعال کړل شوي دي، الوتنې یې په عادي ډول روانې دي او الوتکو له دغه هوایي ډګر څخه ولایتونو او (پاکستان، ایران، متحده عربي اماراتو) او په همدې توګه متحده عربي اماراتو د العین ښار ته چې له اوو کلونو راهیسې یې الوتنې ځنډول شوې وې بېرته پیل شوې او همدارنګه چین، ازبکستان، روسیې، سعودي عربستان، هند او قطر ته په عملي ډول الوتنې ترسره کېږي.

همدا راز له خواجه عبدالله انصاري، احمدشاه بابا، مولانا جلال الدین محمد بلخي نړیوالو هوایي ډګرونو د الوتکو د الوتنو او د ټولنیزو خدمتونو د وړاندې کولو په پار ټولې برخې او لاربښود دستګاوې فعالې دي. همدا راز د ننګرهار هوایي ډګر چې په تېرو شلو کلونو کې د امریکایي او ناټو ځواکونو له خوا یوازې د پوځي او نظامي موخو لپاره کارول کېدو، له دوه لسیزو وروسته د سوداګریزو الوتنو لپاره چمتو او اوس مهال د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت لخوا اداره او په عملي ډول ترې کورنۍ الوتنې ترسره کېږي او د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت مسلکي کاري ټیم د هوایي ډګر مخابراتي سیستم، د څار برج او د کنټرول ټاور ټول تجهیزات فعال ساتلي دي. همدارنګه د ننګرهار د هوایي ډګر تاریخي ترمینل په اړینو آسانتیاوو سمبال او د مسافرینو د ښه راغلاست او پروسس لپاره چمتو او دا ترمینل په معیاري او اساسي ډول د رنګ، ایکسرې ماشین او د انتظار لپاره استنډرډ سالون لري.

سربېره پردې، د تېر کال په اوږدو کې په خوست هوایي ډګر کې په دوه پوړونو کې یو جومات د عبادت کونکو او مسافرینو لپاره د نارینهو او ښځینهو لپاره د بېلو بېلو تالارونو په درلودلو سره جوړ او ګټه اخستنې ته وسپارل شو او همدارنګه د کابل نړیوال هوایي ډګر د رادار سیستم، چې له کاره لویدلی و بیاځلې د قطر هیواد د تخنیکي ټیم په مرسته فعال اوګټه اخستنې ته وسپارل شو. په دغه هوایي ډګر کې ټول اړین وسایل او تجهیزات بشپړ شوي او د هوایي ډګر د ترانزیت برخه له هرډول اسانتیاو څخه برخمنه ده.
د یادونې وړ ده، چې د خواجه عبدالله انصاري، احمد شاه بابا، مولانا جلال الدین محمد بلخي او د کابل نړیوال هوایي ډګرپه ( آی ایل ایس ) سیستم سره جوړ او سمبال شوي دي، چې په دې څلورو هوایي ډګرونو کې د الوتکو، راډیو او رادار لاربښود سیستم نصب او چارې یې په نورمال ډول روانې دي.

- **د هوايي چلند د خونديتوب او څارنې سیستم رامنځته کول:**

دا سیستم د الوتکو د اسنادو ، هوایي شرکتونو ، هوایي ډګرونو د ترمیم ، د ساتنې مرکزونو او هوایي چلند د روزنیزو مرکزونو لپاره رامینځته شوی دی او د دې ترڅنګ به د الوتنو د خوندیتوب ریاست د څارنې ټول چک لیستونه پدې سیستم کې اضافه شي. څارونکي کولی شي ددغه سیستم له لارې خپله څارنه ترسره کړي. په یاد سیستم کې د هوایي شرکتونو بیارغنیزو او روزنیزو مرکزونو داستازو لپاره هم اسناد جوړیږي.

که چېرې د اسنادو د ارزونې او څېړنې په وخت کې نیمګړتیاوې وي، دغه اسناد د بیاځلي تصحیح او سمونې په موخه د شرکتونو استازو ته لیږدول کیږي، ترڅو دوی دغه برخه له اصلاحاتو او سمونې وروسته بیا په سیستم کې داخل کړي.

**د PEL ((Personnel ENSPECTORs LIECENSE)) سیستم رامنځته کول:**

د لومړي ځل لپاره ۷ تنو ته د (PEL) لایسنس او کارتونو ورکول چې اړونده اداري اشخاص ،هوایي شرکتونه، د الوتنې د مصؤنیت او خوندیتوب رئیس، په دغه سیستم کې شامل دي، چې انسپیکټران د دغه سیستم د مصؤنیت او خوندیتوب اصلي مسؤلیت په غاړه لري. د دغه کارت درلودونکي د نړۍ په هرځای کې کولای شي دغه سیستم ته ننوځي او خپل معلومات حاصل او وګوري. دغه سیستم د (QR ) کوډ لري، چې په سیستم کې د دغه کوډونو په کارولو سره ، د شخص اصلي او جعلي کارت معلومیږي؛ ځکه په دغه سیستم کې درغلي او هیکري امکان نلري..

د یادونې وړ ده چې دا سیستم د نړیوال ملکي هوایي چلند ( ایکاو ) سازمان له معیارونو سره سم رامنځته شوی، چې د دې سیستم په کارولو سره د الوتنو د خوندیتوب په پروسه کې ډیرې اسانتیاوې رامنځته شوې دي.

- ( ۱۶۶۲) (یو زرو، شپږ سوه دوه شپیته) کورنیو او بهرنیو الوتکو ته د الوتنو جواز ورکول.
- د تېر یو کال په اوږدو کې د افغانستان له فضا څخه ( ۲۵۵۴۰ )عبورالوتنې ثبت او د افغانستان له فضاڅخه تېرې شوې دي.

**د هوا پېژندنې برخه:** د هوا پیژندنې ریاست د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت تر چتر لاندې، د هیواد په مرکز او ولایتونو کې دهوا پیژندنې خدمتونه د مسلکي او تجربه لرونکو کورنیو کارمندانو له لورې ترسره کوي.

د هوا پیژندنې خدمتونه او سټیشنونه د افغانستان په ملي او نړیوالو هوایي ډګرونو کې ۲۴ ساعته پر وخت دهیواد د هوا حالاتو وړاندوینه کوي. دغه ریاست له سختو بارانونو ، واورو، خطرناکوطوفانونو اوزیان اړونکو سیلابونو څخه د هیوادوالو د خوندیتوب او ژغورنې په موخه په ورځني ، اونیز او موسمی ډول د دغه وزارت د عامه اطلاعاتو او نشراتو ریاست له رسمي پاڼوڅخه رسنیو، دولتي او غیري دولتي ادارو ته پروخت د هواحالاتو په اړه معلومات ورکول کیږي او همداراز دا برخه په دوامداره توګه د بهرنو او کورنیو پیلوټانو لپاره د الوتنې د خوندیتوب په موخه SPECI او METAR راپورونه له پیلوټانو سره شریکوي.

**د ملکي هوایي چلند انسټیټوټ برخه:**

ملکي هوایي چلند انسټیټوټ چې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت تر چتر لاندې فعالیت کوي، یاد انسټیټوټ په دوو برخو د هوایي ټرافیک ATC ( ای ټي سي ) او دملکي هوايي چلند ټکنالوژي CNS یا ( سي ان ایس ) ځانګړو څانګو کې زده کوونکي روزي او په وړیا ډول د کانکور ( ازادې سیالۍ ) له لارې د هیواد له ۳۴ ولایتونو څخه زدهکوونکي مني. په دغه پروسه کې د ګډون لپاره به ګډونوال له دولسم ټولګي څخه فارغ او په انګلیسي ژبه پوره وړتیا ولري.

په دغه انستیټوټ کې زدکوونکي د دوه کلونو لپاره په اړوند مسلکي څانګو کې زده کړې کوي، چې له فراغت سره سم د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په مسلکي څانګو کې دګمارنې په موخه جذب او د هیواد خدمت ته وړاندې کیږي. دغه انستیټوټ له تېر یو کال راهیسې له 200 څخه زیات زدکوونکي زده کړې کوي، له 100 تنوڅخه زیات یې فارغ شوي دي، چې ډیری یې اوس مهال د ملکي هوايي چلند په تخنیکي اومسلکي برخو کې په دنده بوخت دي.

### د سمیلیټوردستګاه ټاور (Air traffic control)فعالول :

د هوايي ترافیک کنټرول (ټاور سیمیلیټور) دستګاه ، چې په مصنوعي توګه د الوتني چاپیریال او وضعیت په واقعي ډول زده کوونکو ته شبیه سازي کوي او همدغه دستګاه له جوړښت سره سم، د ملکي هوايي چلند زده کوونکوته د هوايي ترافیکو د کنټرول په برخه کې عملي زده کړې هم ورکول کېږي. دا دستګاه له دې وړاندې په لندمهاله توګه د بهرنیو شرکتونو لخوا په خورا لوړ لګښت فعالیده او د دې ترڅنګ په کلني ډول ۷۰۰۰۰ اویا زره امریکايي ډالره لګښت پرې کېده، چې اوس د کورنیو انجینرانو په هڅو په دایمي توګه بې له کوم لګښته جوړ او ګټه اخستنې ته وسپارل شوه، چې اوس د عملي زدکړو لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.

### د هیواد په هوايي ډګرونو کې د مسافرینو ، توکو او کارګو د لېږد بهیر:

- بهرته د (354647) (درې سوه څلور پنځوس زره شپږسوه اوه څلوېښت) مسافرو لېږدول .
- په هېوادکې دننه د(176452) (یوسلو شپږ اویا زره، څلورسوه، دوه پنځوس)مسافرو لېږد .
- ۱۴۴۴ هـ ق بیت الله شریف ته د 30،000 (دېرش زره) څخه زیات حاجیانو د لېږد پروسه
- د کارګو له لارې د (2647) (دوه زره شپږ سوه اوه څلوېښت) ټنه توکو لېږد.

### د زیربناوو او ټرانسپورټي تاسیساتو ساتنه او پالنه

د هېواد د هوايي ډګرونو ټول تخنیکي او اداري تاسیسات د کابل نړیوال هوايي ډګر په څلورو خواوو کې د فینس سیستم بیا رغول د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د ۲۷ رغنیزو پروژو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

همدارنګه د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د هوايي ډګرونو د پراختیا او د واټ ټرانسپورټ تاسیسات د ترمیم او بیا رغولو لپاره د بېلابېلو برخو کې د ۳۷ اړتیا وړ اسناد څېړل شوي دي او د هیواد د ۲۴ هوايي ډګرونو کې د ستونزو او اړتیاوو لومړنۍ ترسره شوه چې د هوايي ډګرونو له ریاست په لیست کې شامل دی.

**د هوايي شرکتونو د الوتکو چک کول:** د لومړي ځل لپاره د آریانا افغان هوايي شرکت د ایربس-A310 300الوتکو- C20-check چک پروسه چې پخوا به د 1.3 ملیون ډالرو په لګښت او له پنځو څخه تر شپږو میاشتو په موده کې ترسره کیده، اوس په هیواد کې دننه د آریانا افغان هوايي شرکت د تخنیکي او مسلکي ټیم لخوا د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت تر څارنې لاندې د نږدې ۲۰۰ زره امریکايي ډالرو په لګښت په ۲۸ کاري ورځو کې د نړۍ د هوايي چلند له معیارونو سره سم په بریالیتوب سره بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل

شو. له همدې مرحلې وروسته د آريانا افغان هوايي شرکت د بوينګ ۷۳۷ الوتکو د C-20 چک لړۍ هم په هېواد کې دننه پيل او په بريالیتوب سره سر ته ورسېده. همدارنګه د آريانا افغان هوايي شرکت د بوينګ ۷۳۷-۵۰۰ الوتکو د C+D- چک پړاو د ټرانسپورت او هوايي چلند وزارت د مسلکي انسپکټرانو تر څارنې لاندې د آريانا افغان هوايي شرکت تخنيکي او مسلکي ټيم لخوا د نړۍ د هوايي چلند له معيارونو سره په هيواد کې دننه ترسره شو، چې دا د هېواد او افغانستان د هوايي چلند لپاره بې سارې او ستره لاسته راوړنه ګڼل کيږي.

**د عوايدو د راټولو برخه:**

**د هوايي ټرانسپورټ په برخه کې د خدمتونو چمتو کولو له درکه عايداتي سرچينې:**

د الوتکو اجاره او کرايه: 1304664361.0(يو مليار، درې سوه څلور ميليونه، شپږ سوه څلورشپيته زره، درې شوه يو شپيته)

د دولتي دوکانونو کرايه: 2216266 (دوه ميليونه، دوه سوه شپاړس زره، دوه سوه شپږ شپيته)

د اوبو او برېښنا خدمتونه: 31684924.0 (يو دېرش ميليونه، شپږسوه څلوراتيا زره نهه سوه څلرويشت)

د تجهيزاتو قطعي پلور: 6568500.0 (شپږ ميلونه، پينځه سوه اته شپيته زره. پينځه سوه)

د دولتي اداراتو جواز: 18050696.0 (اته لس ميليونه، پنځوس زره، شپږ سوه شپږنوي)

د هوايي حق العبور عوايد: 113670087.0 (يوسلو ديارلس ميليونه، شپږسوه اويا زره اوه اتيا)

د هوايي ډګر څخه د الوتنې فيس : 1811700933.0 (يو ميليارد، اته سوه يوولس ميليونه، اوه سوه زره، نهه سوه درې دېرش)

د هوايي ډګرونو د ځمکنيو خدمتونو فيس: 186673726.0 (يو سلو شپږاتياميليونه، شپږسوه درې اويا زره، اوه سوه شپږ ويشت)

د هوايي چلند د امنيت فيس: 60819990.0 (شپيته ميليونه، اته سوه نولس زره، نهه سوه نوي)

د رهبرۍ مقام د حکم نه وړاندې د انفرادي اشخاصو جريمه (مجازات): 132362.0 (يوسلو دوه دېرش زره، درې سوه دوه شپيته)

**يادونه:** د دولت د رهبرۍ مقام له حکم څخه وروسته ياد شوی فيس لغوه شو.

د هوايي چلند په برخه کې ټول ترلاسه شوي عوايد (3755592235)(درې ميلياړده، اوه سوه پينځه پنځوس ميليونه، پينځه سوه دوه نوي زره دوه سوه پينځه دېرش) افغانۍ

**د ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې د خدمتونو چمتو کولو له درکه عايداتي سرچينې د ۱۴۰۱ اسد مياشتې څخه تر ۱۴۰۲سرطان پورې :**

ټول ټرانسپورټي عوايد: 1088637069 (يو ميليارد، اته اتيا ميليونه، شپږ سوه اوه دېرش زره، نهه شپيته)

ارزښتناک (بها دار ) اسناد ټول عوايد:152488571 (يو سلو دوه پنځوس ميليونه، څلورسوه اته اتيا زره، پينځه سوه يو اويا)

د جريمو ټول عوايد: 6550128 (شپږ ميليونه، پنځه سوه پنځوس زره، يو سلو اته ويشت)

د هډو ټول عوايد: 502369995 (پينځه سوه دوه ميليونه، درې سوه نهه شپيته زره نهه پينځه نوي)

د جایدادونو د کراپې ټول عواید: 221626647 (دوه سوه یوویشت میلیونه، شپږسوه شپږویشت زره شپږسوه اوه څلوېښت)
د ۱۴۰۱ اسد میاشتې څخه تر ۱۴۰۲ سرطان میاشتې پورې د اسیکودا عواید: 3200447941.0 (درې میلیارده، دوه سوه میلیونه، څلورسوه اوه څلوېښت زره، نهه سوه یو څلوېښت)
د واټ ټرانسپورټ دبرخې په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې ټول جمع شوي عواید: 5172120351 (پینځه میلیارده، یو سلو دو اویا میلیونه، یو سلو شل زره، درې سوه یو پنځوس)

د۱۴۴۴ مالي کال ټول عواید( 8927712586) (اته میلیارده، نهه سوه اوه ویشت میلیونه، اوه سوه دوولس زره، پینځه سوه شپږاتیا) افغانۍ وو چې د تېر کال په پرتله ( ) افغانۍ چې ( ) سلنه کېږي زیاتوالی راغلی دی.

## د څارنې، ارزونې او تفتیش په برخه کې:

د ټولو فعالو او نیمه فعالو هوایي ډګرونه مطالعه تر څېړنې او ارزونې لاندې ونیول شول او په اړه یې لازم تصامیم ونیول شول او په ۱۴۴۴ مالي کال کې د ځانګړي پلان جوړونې او عدلي او قضایي چارو ۹۳ قضیې وڅېړل شوې او له اداري فساد سره د مبارزې او د 16 تنو لپاره تادیبي حکم پلي کول او د غزنی ولایت د واټ ټرانسپورټ دوو کارکوونکو ته د دوی د لا زیاتې هڅونې په موخه د دریمې درجې ستاینلیک وړاندیز او منظور شو او یو تن کارکوونکی د څېړنو لپاره عدلي او قضایي ارګانونو ته وروپېژندل شو.
همدا راز د یاد وزارت د ولایتي واحدونو د فعالیتونو او اجرااتو هر اړخیزه څارنه او ارزونه او د شاوخوا ۱۷۴ د واټ ترانسپورټ شرکتونو د خدمتونو وړاندې کول چې بېلابېلو ولایتونو ته د مسافرینو د لېږد رالېږد په برخه کې فعال دي، هر اړخیزه څارنه او ارزونه ترسره شوه. په تېر کال کې د عوایدو د راټولولو له بهیر څخه د ښې څارنې او د ټرانسپورټي کمېشنونو په مرکز او ولایتونو کې د ترانسپورت په مرکزونو او ترمینلونو او ټولو بندرونو کې د موټروچلوونکو، مسوولینو او مسافرینو ستونزې او شکایتونه په پام کې نیول شوي دي.

## د بشري سرچینو په برخه کې:

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د 1444 مالي کال تشکیل د تشکیلاتي دسپلین او د مرکز او ولایاتو د تناسب سره سم تر بیا کتنې لاندې نیول شوي او د تکشیل د ټولو بستونو وظیفوي لوایح د هېواد په رسمي ژبو باندې چمتو شوي دي. د 1402 کال تشکیل تر 4450 (څلورزره څلور سوه پنځوس) تنو پورې زیات شوی. په 1401 کې دغه شمېره 2339 تنو پورې وه. په نوي تشکیل کې 2111 تنه تشکیلاتي توپیر راغلی او په دې توګه د تشکیل کچه د تېر کال په پرتله لوړه شوې ده.
دغه راز د تخصصي او مسلکي کسانو په جذب او ګمارنې سره د کمبود او خالي بستونو د ډکولو هڅې شوي دي او د دې وزارت لسګونه مسلکي کارکوونکو ته زمېنه برابره شوې ده چې د اړینو مسلکي زده کړو لپاره له هېواده بهر لاړ شي او اړینو زده کړو له بشپړولو وروسته هېواد ته راستانه شي. په دې وروستیو کې د هوایي ترافیک خدمتونو د تنظیم ریاست اوه تنه کارکوونکي د هوایي خدمتونو چمتو کولو او هوایي ترافیک کنټرول په برخه کې تخصصي او مسلکي زده کړو په موخه د متحده عربي اماراتو العین ښار ته لاړ دي. د هوا پېژندنې

رياست له لوري له لسو زيات کارکوونکي د هوا پېژندنې په برخه کې د لازمو زده کړو په موخه پاکستان ته لېږل شوي او له اړينو زده کړو او ازموينو وروسته يې سندونه ترلاسه کړي او هېواد ته راستانه شويدي.
دغه راز د چين له خوا په انلاين ډول د اړتيا وړ تخصصي او مسلکي زده کړو اسانتياوې برابرې شوې دي.

## د ۱۴۰۲ هجري شمسي (۱۴۴۵ هجري قمري) کال عمده پلانونه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په پام کې لري، تر څو هغه پروژې چې د 1402 کال لپاره يې پلان کړي دي په ښه ډول پلي کړي، په دې پروژو کې د ټرانسپورت په برخه کې د عام المنفعه پروژې دي چې د دولت په لګښت او يا د عامه او خصوصي مشارکت له لوري اجرا کېږي:

1. د هوايي چلند د سکټور ستراتيژيک پلان نهايي کول؛
2. د لارښوونو تصحيح او چمتو کول؛
3. د وزارت د پراختيايي او تاسيساتي پروژو د پروسې د مرحلو سرته رسول؛
4. د پلان جوړونې او راپور ورکولو رهنمود او لارښوونه؛
5. د پاليسيو طرحه، ترتيب او هغوی ته پراختيا ورکول؛
6. د مسافرينو ترمينل د کمپليکس جوړول؛
7. دبارونواو مالونو(انتقال) ترمينل کمپليکس جوړول؛
8. د برېښنايي او الکترونيکي دروازو جوړول؛
9. د تير- پارکونو جوړول ؛
10. د تمځايونو ( هډو) رامنځته کول او جوړول.
11. **د پاليسيو تصحيح او چمتو کول:**

1. د احصايوي معلوماتو راټولولو پاليسي؛
2. د خصوصي سکټور د پانګونې د جلبولو او جذب پاليسي

**د ځمکو ټاکنه او تثبيت:**

- د برېښنايي او الکترونيکي دروازو د تاسيساتو لپاره ( Toll Gates)
- په کابل ولايت کې (۴) دروازې،
- په کندهار ولايت کې (۳) دروازې .
- په هرات ولايت کې (۵) دروازې
- د تير- پارک د تاسيساتو لپاره ( TIR-Parks)
- په (کابل، خوست، فارياب، باغيس، جوزجان او بلخ) ولايتونو کې
- په پنځو ولايتونو کې د اداري ودانيو (اداري تعميرونو) لپاره د ځمکو ټاکنه او تثبيت.

- په ټاکل شوي وخت او د پروژو قرارداد ورکونکي ته د ورکړل شوو مشخصاتو مطابق د ساختماني پروژو د عملي کولو مديريت کول
- د پلانګذارۍاو د پروژو د تحقيق او تطبيق رياست لخوا دمنظور شوي عمومي پلان سره سم پهساحه کې د پروژو د عملي کولو د پلان چمتو کول او تنظيمول
- د عامه او خصوصي مشارکت او سرمايه ګذارۍ په توګه د دريو پروژو عملي کول(د کابل په ختيځ بندر کې د بريښنايي، الکترونيکي دروازو ، د هرات ولايت په ګذره ولسوالۍ کې د مسافرينو تمځای او د آقيني بندر کې د تير -پارک ) جوړول.
- د واټ ټرانسپورټ د تنظيم د اصولنامې ( قانون) ترتيب چمتو کول.
- د (خوست، قلعه نو، لشکرګاه، لغمان، تخار او ګرديز) ولايتونو د هوا پېژندنې د سټېشنونو مجهز کول
- په هيواد کې دننه د هوا پېژندنې کارکونکو د ظرفيت لوړونې اړوند د ( هواپېژندنې د سټېشنونو د مجهز کولو، د هوا پېژندنې، وړاندوينې او فورکاسټ ) په بخشونو کې او د ميتورولوژي (Atmospheric Science)په برخه کې په انلاين بڼه د ورکشاپونو او کورسونو دايرول.
- د داخلي هوايي شرکتونو لپار( د هوايي چلند د مقررې 9 نهمې ب ACARS )په مطابقت د هوايي اپريټر (( Certificate AOC Air Operator په برخه کې د فعاليت کولو د جواز صادرولو ، نوی کولو په اړه د اطمينان حاصلول .

[طرحې:]

- د هوايي چلند د انستيټوټ د زيربناوو، پراختيا او پياوړتيا،
- هوايي چلند انستيټوټ کې د نويو څانګو او ډيپارټمنټونو رامنځته کول. ،
- هوايي چلند انستيټوټ کې د انلاين تدريس سيستم رامينځته کول
- په هوايي ډګرونو کې د هوايي چلند انستيټوټ د زده کونکو عملی کار . ،
- د هوايي چلند انستيټوټ د پورټال تاسيس او رامنځته کول.
- د هوايي چلند انستيټوټ مالی خپلواکې ،
- د هوايي چلند انستيټوټ دحقوقي شخصيت بدلون .
- د هوايي چلند انستيټوټ د فراغت سند اعتبار تر لاسه کول.
- د هوايي چلند انستيټوټ لپاره د ملی او بين المللي اعتبار ترلاسه کولو لپاره زمينه برابرول.
- د هغو الوتنو ثبت او راجسټر کول چې د هيواد له فضايي حريم څخه تيريږي.
- د هيواد په ټولو هوايي ډګرونو کې چې کومې پلاني او غير پلاني الوتنې Scheduled and none Scheduled )تر سره کيږي او د هيواد له هوايي حريم څخه تيريږي هغوی لپاره د الوتنې جواز صادرول .

[د نظارت او څارنې په برخه کې]

1. د هيواد د عمومي خونديتوب او مصئونيت پروګرام (State Safety Program ) څخه څارنه او نظارت کول.
2. د (کابل، احمدشاه بابا او خواجه عبدالله انصاري) نړيوالو هوايي ډګرونو څخه د ساتنې او مراقبت د قرارداد ونو څارنه کول.

3. د ګرونډ هنډلينګ په برخه کې د(کابل، احمدشاه بابا، خواجه عبدالله انصاري او مولانا جلال الدين محمد بلخي) د نړيوالو هوايي ډګرونو د قراردادونو څارنه کول.
4. په (کابل، کندهار، هرات او مزارشريف) نړيوالو هوايي ډګرونو کې د ګاک امنيتي شرکت سره د تفاهم نامو له موادو نظارت کول.
5. په هوايي ډګرونو کې د مخابراتو او لارښود دستګاوو Air Navigation Service (ANS)او نورو بريښنايي دستګاوو نصب ، تنظيم ، ترميم ساتنه څارنه او ارزونه ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ياد وسايل په ټول افغانستان کې (ICAO, ACARs, SARPs ) د معيارونو او سټنډرډونو سره سم فعال شوي وي
6. په ټول افغانستان کې د ASR8 دستګاوو د فعاليت څارنه او کنټرول.
7. د نړيوال هوايي ډګرونو دځغاستليکې او تکسوي ساحو کې د څراغونو د سيستم کنټرول او د بريښنا توليد کونکو جنراتورونو څخه څارنه ترڅو د هغوی د فعاليت څخه ډاډ ترلاسه شي.
8. د هيواد د هوايي ډګرونو د تخنيکي تجهيزاتو او وسايلو د کنټرول ، د مخابراتي سيستمونو فعالولو، بريښنا او د ANS الوتکو دلارښووني او د الوتکو د الوتني لپاره د اسانتياوو برابرول.
9. په مسلکي او تخنيکي ډول د نويو ميتودونو په کارولو سره د الوتنو د غوره لارښونو او د خدمتونو وړاندي کولو لپاره د سافټوير او ډيټابيس منظم کنټرول او نظارت.
10. د ملکي هوايي چلند د خونديتوب په برخه کې د ملي او نړيوالو معيارونو سره سم د هيواد د کورنيو هوايي شرکتونو د فعاليتونو څارنه او نظارت کول

**د مقرراتو په مادو کې تعديلات ( تصحيح):**

1. د هوايي ډګرونو او هوايي چلند د تاسيساتو د کرايې مقرره
2. د هوايي چلند د امنيت مقرره، 3- د هوايي ټرانسپورټ د بنسټونواو موسساتو د رامنځته کولو مقرره او 4- د ملکي هوايي چلند اړوند د(ACAR S مقرراتو) د اوسنيو اړتياوو او د اميرالمومنين حفظه الله (۹) شمېرې د ۱۴۴۴/۲۸/۰۳ فرمان حکم په اساس مقرره.
3. د وزارت دندې او واکونه( صلاحيتونه)
4. د واټ ټرانسپورټ خونديتوب
5. د وارداتي وسايطو لپاره مقرره،

د نړيوال واټ ټرانسپورټ مقرره TIR (Transports International Road)

**د طرحو ترتيب:**

- له ترکمنستان هيواد سره د هوايي خدمتونو په اړه د تفاهمنامې طرحه.
- له ايران هيواد سره د ښوونيزو پروګرامونو په اړه د تفاهمنامې طرحه.
- د پاکستان او ايران هيوادونو سره د هوايي خدمتونو په اړه د تفاهمنامې طرحه او تعديل
- دروسيې هيواد سره د هوايي خدمتونو د هوکړه ليک طرحه اوتعديل.
- د ښاري مسافر وړونکو موټرونو (بس او ټکسي) ته د بريښنايي کارتونو او د لارې د کتابچو وېش.
- ښاري مسافر وړونکو موټرونو ته د سټيکرونو او د کابل بس پليټونو وېش او نصب.
- د اطرافي وسايطو (لارۍ، بس او ټکسي) لپاره د بريښنايي کارتونو او د لارې کتابچو وېش او توزيع.

امارت اسلامی افغانستان
ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
معاونیت روابط عامه و استراتیژیک
مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت

د افغانستان اسلامي امارت
رياست الوزراء
د دفتر لوي رياست
د عامه او استراتيژيکو اړيکو معاونيت
د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

Islamic Emirate of Afghanistan
Directorate of Ministers
General Director Chief of Staff
Deputy Director General of Public and Strategic Affairs
Government Media and Information Center